د لوړو زده کړو وزارت

بُست پوهنتون

انجنيري  پوهنځی

سیول څانګه

# د سیول څانګي پنځه کلن ستراتیژیک پلان

## 2027-2023میلادي

### ۱۴۰۲ هـ ش – ۱۴۰۶ هـ ش

# لړلیک


د ځانګې د آمر پیغام.... 4
د ځانګې ستراتیژیک چیار چوب .... 5
مقدمه.... 6
لرلید.... 6
رسالت.... 6
د ځانګې د استادانو شهرت.... 7
ستراتیژیکې موخې .... 8
د سیول ځانګې ارزښتونه.... 8
د سیول ځانګې د SWOT تحلیل .... 9
د سیول ځانګې ځواکمن ټکي (Strengths).... 9
د سیول ځانګې کمزوري ټکي (Weaknesses).... 9
د سیول ځانګې فرصتونه (Opportunities) .... 9
د سیول ځانګې په وړاندې ننګونې (تهدیدونه) (Treats) .... 9
د داخلي عواملو د تحلیل ماتریکس Internal Factor Evaluation Matrix (IFEM).... 10
د خارجي عواملو د تحلیل ماتریکس External Factor Evaluation Matrix (EFEM) .... 10
جدول: د داخلي عواملو د لومړیتوبونو ماتریکس .... 11
جدول: د خارجي عواملو د لومړیتوبونو ماترکس .... 11
د داخلي او خارجي عواملو مقایسه .... 12
د ستراتیژیک حالت ټاکنه .... 13
د ستراتیژیو د لومړیتوب ټاکنه .... 13
د ځانګې ستراتیژیک پروګرامونه .... 14
۱: د ظرفیتونو لوړول.... 14
۲: عملي کارونو لپاره د زمینو پراختیا.... 14
۳: د تحصیلي نصاب اصلاح او څارنه.... 15
۴: د کیفیت تضمین د خدماتو او زیربناوو رغول.... 16
۵: د محصلینو د جذب لپاره اوږد مهاله فعالیتونه.... 16
۶: د علمي څیړنو پراخول ( تحقیق ) .... 16
۷: د استادانو د ماستری پروګرام .... 17
۸: د مسلکي دایمي استادانو جذب(کادري سیستم تطبیق).... 17
۹: د عوایدو را ټولول .... 17
۱۰: د تکنالوژي څخه استفاده او د سازماني مدیریت انکشاف .... 18
په افغاني ټولنه کې د انجنیری پوهنځی سیول ځانګې رول .... 18

اکشن پلان ........................................................................................................................ 19
د بودجې تدوين........................................................................................................... 20
د ستراتيژۍ اجرا ........................................................................................................ 21
د ستراتيژۍ ارزيابي.................................................................................................... 21
ضمايم............................................................................................................................ 21

# د ځانګي د آمر پیغام

ننۍ نړۍ په ټوله کښي د يوه کلي حيثيت لري او زمونږ هيواد يي د يوه کور په شان برخه ده مونږ ښوونې او روزنې لوړو زده کړو او تخصصي زده کړو ته ډيره اړتيا لرو همدارنګه د عصري ژوند لپاره و تکنالوژي ته اړتيا ده چي دي تکنالوژي ته د علم پرمټ رسيدلي سو.

چي په دی اساس د بست پوهنتون انجنيري پوهنځي سيول ځانګه کوښښ کوي د دي لاري د خپل هيواد په رغوونه ، سمسورتيا او د په کارپوه تخنيکي او مسلکي انجنيرانو په روزنه کښي برخه ولري. ترڅو د هيواد وهغه ناخوالوته چي د تيرو څلوڅلوښتو کلونو پرلپسي جګړو كښي رامنځته سوي ځواب ووايي، پوهيږو چي سيول انجنيران د ودانيو،سړکونو، پلونو،بندونو او نورو ساختمانونو په جوړونه کښي رغنده رول لري د بست پوهنتون انجنيري پوهنځی سيول ځانګه کښي د ننۍ عصر د غوښتنو مطابق او معياري نصاب پرمټ تدريس تر سره کيږي چي فارغين يې کولاي سي د سيمي او هيواد په کچه د ټولني و تخنيکي ستونزو ته ځواب ووايي، د بست پوهنتون انجنيري پوهنځي او سيول ځانګي اداري هميش کوښښ کوي تر څو د دي لاري ټولو هغه اړتياوو ته ځواب ووايي چي د افغانستان د پرمختګ سبب کيږي. د سيول ځانګي ستراتيژيک پلان د لوړو زده د پلان او پاليسي په اساس جوړ سوي تر څو وکولاي سي عامه سوکالي رامنځته کړي،ټولو ملي ارزښتونوته پابند واوسي او په ټولنه کښي ښه اعتبار او ځاي خپل کړي.

انجنير عزت الله سلطاني

د سيول ځانګي آمر

## د ځانګي ستراتیژیک چیار چوب

مقدمه: د ځانګي معرفت، د ځانګي فعالیتونه او د ځانګي مخکنی ستراتیژیاني

د لرلید ځرګندول
د ماموریت ځرګندول
د ارزښتونو ځرګندول
د ستراتیژیکو موخو ځرګندول

د محیطی عواملو او د لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژیکو برنامو لومړیتوبونه

محیطي عوامل (داخلي او خارجي) :
قوتونه، نیمګړتیاوي، فرصتونه او تهدیدونه

د لوړو زده کړو وزارت لومړیتوبونه:
حکومتداري، لوړو زده کړو ته لاسرسی او زیربناوي

د ممکنو ستراتیژیانو ځرګندول
د ستراتیژیو د لومړیتوب ځرکندول
د ستراتیژیک لومړیتوب ځرګندول
د لنډ مهاله موخو ځرګندول

د کلنی کړنو برنامه
د بودیجي تدوین، مالي برنامه
د ځانګي د مشر تابه د سبک ټاکنه
د سرچینو ځانګړتیاوي
د اجرایوي پالیسیو تدوین

د ستراتیژیکي برنامي څارنه او ارزونه

د تدوین مرحله

د اجرا مرحله

د ارزوني مرحله

## مقدمه

د سیول ځانګه د انجنیری پوهنځۍ د تاَسیس سره یو ځاي په ۱۳۹۱ لمریز کال کې رامنځته او په فعالیت یې پیل کړی دی چې د انجنیري پوهنځۍ د فعالیتونو سره یو ځاي خپل اداري او تدریسي چاري مخ وړي.

همدارنګه سیول ځانګه د اداری چارو او فعالیتونو دسر ته رسولو په منظور ۸ فعاله کمیټې لکه ( دکیفیت دتضمین ، بریښنایي زدکړو ، علمی څیړنو ، ازموینو ، دستراتیژیک پلان دتطبیق او څار ، نصاب، فرهنګي چارو ، او نظم دسپلین شکایاتو ته د رسیده ګی کمیټي لري چې کارونه یې دمسول کسانو لخوا مخته وړل کیږی

په یاده ځانګه کښې د لیسانس په کچه محصلین روزل کیږي او د لیسانس دوره یې څلور کاله ده.

سیول ځانګه د تاسیس له وخته تر اوسه خپل ټول اداري او علمی فعالیتونه په پوره شفافیت او لوړ کیفیت سره د وخت د غوښتنو مطابق تر سره کوي. چې په دي بهیر کښې یې په زیاته کچه فارغان د ټولنې خدمت ته وړاندې کړي.

د سیول ځانګه د انجنیري پوهنځۍ سره یو ځاي د بُست پوهنتون په دایمي تعمیر کې خپل فعالیتونه پرمخ وړي چې ټول ۶ میلیونه امریکایي ډالر لګښت پرې راغلی دی چې دولتي او لمریزه ۲۴ ساعته بریښنا لري.

همدارنګه د انجنیري پوهنځۍ په مجهز کتابتون کښې په کافي اندازه د سیول ځانګې اړوند کتابونه شتون لري او د سیول ځانګې استادان او محصلین د ضرورت په وخت کښې د انجنیري پوهنځۍ د کمپیوټر لیب څخه استفاده کوي ددې ترڅنګه د انجنیری پوهنځۍ سیول ځانګه د محصلینو د نظري زده کړو ترڅنګ د عملي زده کړو لپاره یو فعاله مجهز لابراتوار لري چې محصلین د مهال ویش مطابق ورته لاس رسي لري.

اوسنې اړوند ستراتیژیک پلان کې کوښښ شوی تر څو د واقعي شرایطو پر بنسټ موجوده وضیعت په درست شکل تحلیل شي او نوموړی پلان به د سیول ځانګې په راتلونکو کړنو باندی مثبت اثر ولري.

## لرلید

د سیول انجنیري پوهنځۍ ځانګه هڅه کوي تر څو د هیواد په کچه غوره او وتلې ځانګه اوسي څو ټولنې ته مسلکي او وتلي انجنیران وړاندي کړي ترڅو د ښوونې ، پلټنې او مسلکي فعالیتونو په مرسته د بنسټیزو ستونزو پرحلولو باندی بریالی سي.

## رسالت

سیول انجنیري د انجنیری په مختلفو برخو کې او کارنده پلټونو د سرته رسولو ، دانجنیری د اړتیا وړ نوي پوهنې خپرولو لپاره د سیمه ایزو اړتیاو د له منځه وړولو په موخه او د پایداره ولایتي پرمختګ له لاري د ژمني او په کار پوه انجنیرانو په روزولو سره په ملي پرمختګ کې د غوښ رول د سرته رسولو هڅه کوي.

## د ځانګي د استادانو شهرت

| ګڼه | پېژندګلوي: نوم | پېژندګلوي: تخلص | تحصیلي درجه او علمي رطبه | رشته | تدریسي مضمون | انځور |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ولي جان | سروري | ماستر | ساینس | فزیک |  |
| ۲ | عبدالحمید | هلمندی | ماستر | اسلامي علوم | اسلامي ثقافت |  |
| ۳ | عزت الله | سلطاني | لیسانس | سیول | د ساختمان تحلیل |  |
| ۴ | نثاراحمد | احمدي | لیسانس | سیول | کانکریټ |  |
| ۵ | حیات خان | مخلص | لیسانس | سیول | هایدرولیک |  |
| ۶ | سیدنوالرحمن | سادات | لیسانس | سیول | د خاوري میخانیک |  |
| ۷ | اغاولي | صمیم | لیسانس | سیول | ترانسپورتیشن انجنیري |  |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | محمد سالم | ثمین | لیسانس | اسلامي علوم | د اسلام اقتصادي نظام |  |
| ۹ | نعمت الله | مطیع | لیسانس | اسلامی علوم | د اسلام اداري نظام | |

## ستراتیژیکي موخې

1- د یو چټک معیاري او عصري دیجیتلي اداري سیستم برابرول چې ټولې چارې د الیکترونیکي سیستم او ډیټابیس پواسطه سره ترسره شي.

2- د ټول اداري او تدریسي فعالیتونو لا باکیفیته کول.

3- د (۳۰) سلنه ماسټرۍ او دوکتورا لرونکو استادانو درلودل.

4- د کیفیت د لوړاوي برخه کې اکاډیمیک اعتبار اخیستل.

5- د اوس په پرتله د دوه چنده محصلینو جذب کول.

6- د تحقیقاتي کړنې د اوس په پرتله (۶۰) سلنه زیاتول.

7- د اوس په پرتله د کارمندانو (۲۰) سلنه زیاتوالی.

## د سیول ځانګي ارزښتونه

1. د علمي کادرونو او کارمندانو تشویقول.
2. د استادانو علمي او مسلکي ظرفیتونه لوړول او ځانګه په نوي او پرمختللي تکنالوژۍ سمبالول.
3. د ستراتیژیک پلان پلي کول او اړوندو مسئولو مراجعو ته راپور وړاندي کول.
4. ګروپي کارونه حمایه کول.
5. محصلینو ته تشویقي او زده کړیز چاپېریال چمتو کول.
6. څېړنیزو پروژو او پروګرامونو ته پاملرنه او په علمي، څېړنیزو او اداري برخو کې د ځان ارزوني پروسې جاری ساتل.
7. د اسلامي او افغاني ارزښتونو، اعتقاداتو او فرهنګونو مراعتول.
8. په نه شکېدونکې توګه د درسي کوریکولم د مفرداتو بیا کتنه او د نویو او ښه کیفیت لرونکو درسي موادو او کتابونو تهیه کول.
9. په استادانو او محصلینو کې هیوادنی مینه را ژوندۍ کول.
10. په افغانستان کې د ټولو نافذه قوانینو رعایت.
11. کیفیت او عدالت ته لومړي توب.

12. د هرډول (توکمي، ژبني، مذهبي او سیاسي) تعصبونو په کلکه مخنیوی کول.
**13.** د علمي سمینارونو او غونډو جوړول

## د سیول ځانګي د SWOT تحلیل

د سیول ځانګي د ستراتیژیک پلان د SWOT تحلیل د ستراتیژیک پلان د جوړوني د کمیټي د غړو له لوري جوړسوي اووه (۷) ډوله پوښتنلیکونه د بُست پوهنتون رهبری او کارمندانو ، دسیول ځانګی استادانو، دسیول ځانګی برحال محصلینو، د انجنیري پوهنځی اداري کارمندانو، دسیول ځانګی د محصلینو والدینو او د انجنیری پوهنځی دسیول ځانګی فارغانو ته د یو رسمي فورم په ذریعه ورتسلیم سوي او بیرته راتول سوي دي او همدارنګه سره همړغو او همکارو اداراتو ته لکه د هلمند د سندیزي حوزې لوی ریاست ، د هلمند د فرعي سیندیزي حوزي ریاست، ، د هلمند د ښار جوړولو ریاست، او د هلمند کرهنی او مالداری ریاست ته په مکتوبي شکل یاد پوښتنلیکونه لیږل شوي دي، د بیرته راټول سوو شپږپنځوس (۵۶) پوښتنلیکونو خلاصه په لاندی ډول سره ده.

### د سیول ځانګی ځواکمن ټکي (Strengths)

1. معیاری او داوسنی اړتیاو ځواب ویونکی واحد تحصیلی کریکولم درلودل.
2. ښه تجهیزات او امکانات درلودل .
3. معیاری او غوره تدریسی میتود.
4. ښه او چټک خدمات دانجنیری پوهنځي سره دهمړو اداراتو تفاهم لیکونه لرل.

### د سیول ځانګی کمزوري ټکي (Weaknesses)

1. د دایمی لوړ رتبه او کادري استادانو نه شتون.
2. د محصلانو لپاره دعملی کارونو کموالی.
3. د دڅیړنیزو پروژو او پرکرامونو کموالي .
4. دمحصلینو کمزوری جذب.

### د سیول ځانګي فرصتونه (Opportunities)

1. تربل هر وخت و لوړو زده کړو اسانه لاس رسي.
2. د ټولني اقتصادي وضعیت ته په کتو مناسب فیس.
3. غوره امنیت او غوره موقعیت.
4. د پراخه کاري ساحې شتون.
5. د محصلینو لپاره د عملی کار او سیر علمي زمینه سازي کول.

### د سیول ځانګي په وړاندي ننګونې (تهدیدونه) (Treats)

1. د اقتصادي وضعیت خرابوالي.
2. د دولتي او غیر دولتي پوهنتونونو تر منځ غیر سالم رقابت.

3. په ثانوي دوره کښې په ساینسی علوموکښې د محصلینو ضعیفه زده کړې.
4. د محصلینو کمزوري جذب.
5. د محصلینو لپاره د عمل کارونو نه اجرا کول.

## د داخلي عواملو د تحلیل ماتریکس (IFEM) Internal Factor Evaluation Matrix

| | ګڼه | فکتور | وزنی ضریب | امتیازی ضریب/ د جذابیت ضریب | موزون ضریب |
|---|---|---|---|---|---|
| Straightness | ۱ | معیاری او داوسنی اړتیاو ځواب ویونکی واحد تحصیلی کریکولم درلودل. | 0.1405 | 3.5 | 0.49175 |
| | ۲ | ښه تجهیزات او امکانات درلودل . | 0.1150 | 4 | 0.46 |
| | ۳ | معیاری او غوره تدریسی میتود. | 0.0766 | 4 | 0.3064 |
| | ۴ | ښه او چټک خدمات دانجنیری پوهنځي سره دهمږو اداراتو تفاهم لیکونه لرل. | 0.1533 | 3 | 0.4599 |
| Weakness | ۵ | د دایمی لوړ رتبه او کادري استادانو نه شتون. | 0.112 | 2 | 0.224 |
| | ۶ | د محصلانو لپاره دعملی کارونو کموالی. | 0.1246 | 1.5 | 0.1869 |
| | ۷ | د ځیرنیزو پروژو او پرکرامونو کموالی . | 0.1342 | 1.2 | 0.16104 |
| | ۸ | دمحصلینو کمزوری جذب. | 0.1438 | 2 | 0.2876 |
| | | نتیجه | 1 | 21.2 | 2.57759 |

## د خارجی عواملو د تحلیل ماتریکس (EFEM) External Factor Evaluation Matrix

| | ګڼه | فکتور | وزنی ضریب | امتیازي ضریب | موزون ضریب |
|---|---|---|---|---|---|
| Opportunity | ۱ | تر بل هر وخت و لوړو زده کړو اسانه لاس رسي. | 0.1075 | 4 | 0.43 |
| | ۲ | د ټولني اقتصادي وضعیت ته په کتو مناسب فیس. | 0.147 | 3.5 | 0.5145 |
| | ۳ | غوره امنیت او غوره موقعیت. | 0.082 | 3.8 | 0.3116 |
| | ۴ | د پراخه کاري ساحې شتون. | 0.115 | 3 | 0.345 |
| | ۵ | د محصلینو لپاره د عملی کار او سیر علمي زمینه سازي کول. | 0.155 | 2 | 0.31 |
| Threats | ۶ | د اقتصادي وضعیت خرابوالي. | 0.1434 | 2 | 0.0.2868 |
| | ۷ | د دولتي او غیر دولتي پوهنتونونو تر منځ غیر سالم رقابت. | 0.0645 | 1.5 | 0.09675 |
| | ۸ | په ثانوي دوره کښې په ساینسی علوموکښې د محصلینو ضعیفه زده کړې. | 0.107 | 2 | 0.214 |
| | ۹ | د محصلینو کمزوري جذب. | 0.0788 | 1.8 | 0.14184 |
| | ۱۰ | د محصلینو لپاره د عمل کارونو نه اجرا کول. | 0.0868 | 1.5 | 0.1302 |
| | | نتیجه | 1 | 25.1 | 2.78069 |

## جدول: د داخلي عواملو د لومړیتوبونو ماتریکس

| د اهمیت میزان | | مقایسه | د ځانګي په رقابتي کړنو يې تاثير | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | زيات | متوسط | کم |
| | (3-4) | معیاری او داوسنی اړتیاو ځواب ویونکی واحد تحصیلی کریکولم درلودل. | د ځانګي درسی کیفیت ور سره لوړیږي | | |
| | | ښه تجهیزات او امکانات درلودل . | د ټولني د اعتبار زیاتوالی او د ټولني د وګړو د لوړو زده کړو سره د پراخه لیوالتیا لامل کیدای سي. | | |
| | | معیاری او غوره تدریسی میتود. | پوه او باکفیت فارغان ټولني ته وړاندي کوي | | |
| | | ښه او چټک خدمات دانجنیری پوهنځي سره دهمږو اداراتو تفاهم لیکونه لرل. | | د همږغو اداراتو سره ښه همږغي او د ټولني غوښتنو ته پروخت ځواب ویل | |
| | (2-3) | د دایمی لوړ رتبه او کادري استادانو نه شتون. | د کادري سیستم نه شتون | د استادانو باور د پوهنځی په وړاندی کمزوری کوي. | |
| | (1-2) | د محصلانو لپاره دعملی کارونو کموالی. | د عملی زده کړو کمزوري کیدل | | |
| | | د دځیرنیزو پروژو او پرګرامونو کموالي . | | د ځیرنې سره د ځانګي د محصلینو نه اشنایی | |
| | | دمحصلینو کمزوری جذب. | د محصلینو کمزوري جذب د ځانګي د سقوط باعث ګرځي | | |

## جدول: د خارجي عواملو د لومړیتوبونو ماترکس

| د احتمال وقوع | | حالت | پر ځانګي يې تاثير | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | زيات | متوسط | کم |
| | (3-4) | تر بل هروخت و لوړو زده کړو اسانه لاس رسي. | دځانګي د لا پرمختګ لامل کیدای سي. | | |
| | | د ټولني اقتصادي وضعیت ته په کتو مناسب فیس. | د ټولني د وګړو لوالتيا و لوړو زده کړو ته زیاتوي. | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | غوره امنیت او غوره موقعیت. | | د کـــارونو د لا بنــه پرمخ تگ لامل کیدای سي. | |
| | (2-3) | د پراخه کاري ساحې شتون. | | ددي خـــــــانگي د محصـــلانو د زیـــات جذب لامل کیدای سي. | |
| | | د محصلینو لپاره د عملی کار او سیر علمي زمینه سازي کول. | د محصـــــــلینو د وړتیــاوو د لوړیدو باعث کیږي | | |
| | | د اقتصادي وضعیت خرابوالي. | د دي خـــانگي د محصـــــلینو د کمـــزوري جـــذب لامل کیداسی.. | | |
| | | د دولتي او غیر دولتي پوهنتونونو تر منځ غیر سالم رقابت. | | د تولني اعتبـار د لاسه ورکولای سی. | |
| | (1-2) | په ثانوي دوره کښې په ساینسی علوموکښې د محصلینو ضعیفه زده کړې. | | د محصـــلینو د پـــوهي کچـــې د کښـــته کیـــدو لامل کیداسی. | |
| | | د محصلینو کمزوري جذب. | | خانگه د محصلینو د نه شتون سـره مـخ کیداي ســی. | |
| | | د محصلینو لپاره د عمل کارونو نه اجرا کول. | | د محصلینو د عملـی او تجربوي پوهي د لویدو لامل کیږي. | |

## د داخلي او خارجي عواملو مقایسه

| داخلي عوامل / خارجي عوامل | د قوت ټکي یا S | د ضعف ټکي یا W |
|---|---|---|
| | 5. معیاری او داوسنی اړتیاو ځواب ویونکی واحد تحصیلی کریکولم درلودل.<br>6. ښه تجهیزات او امکانات درلودل .<br>7. معیاری او غوره تدریسی میتود.<br>8. ښه او چټک خدمات دانجنیری پوهنځي سره دهمړو اداراتو تفاهم لیکونه لرل. | 1. د دایمی لوړ رتبه او کادري استادانو نه شتون.<br>2. د محصلانو لپاره دعملی کارونو کموالی.<br>3. د دخیرنیزو پروژو او پرکرامونو کموالي .<br>4. دمحصلینو کمزوری جذب. |
| **فرصتونه یا O**<br>1. تر بل هر وخت و لوړو زده کړو اسانه لاس رسي.<br>2. د تولني اقتصادي وضعیت ته په کتو مناسب فیس.<br>3. غوره امنیت او غوره موقعیت.<br>4. د پراخه کاري ساحې شتون.<br>5. د محصلینو لپاره د عملی کار او سیر علمي زمینه سازي کول. | تهاجمي ستراتیژیاني (SO)<br>1. واحد تحصیلی کریکولم او په لوړو زده کړو کښې اسانتیا د سیول خانگي کیفیت او کمیت لوړوالي سي .<br>2. غوره امکانات غوره موقعیت او غوره امنیت په دي خانګه د تولني باور زیاتولي سي.<br>3. د تولني داقتصادي وضعیت ته په کتو مناسب فیس ددي سبب کیږي چي د محصلینو جذب زیات او ښه عواید تر لاس سي.<br>4. د پراخه کاري ساحي شتون و سیرعلمي ته ژمنتیا د همرغو ادارو سره همرغي قوي کوي. | محافظه کارانه ستراتیژیاني (WO)<br>1. د تولني اقتصادي وضعیت ته په کتو د مناسب فیس په اخستلو سره دمحصلانو جذب زیاتیدای سي.<br>2. د محصلینو عملي کار لپاره پراخه او ژمنتیا و محصلینو ته دعملي کار زمینه برابر ولای سي.<br>3. و عملي کارونو ته د پراخي کاري ساحي شتون او سیرعلمي و محصلینو ته د خیرنیزو پروکرامونو زمینه مساعدوي.<br>4. د تولني د اعتبار په وجه کادري سیستم فعاله کیږي. |

| تهدیدونه یا T | رقابتي ستراتيژياني (ST) | تدافعي ستراتيژياني (WT) |
|---|---|---|
| 1. د اقتصادي وضعيت خرابوالي.<br>2. د دولتي او غير دولتي پوهنتونونو تر منځ غير سالم رقابت.<br>3. په ثانوي دوره کښي په ساینسی علومو کښي د محصلينو ضعيفه زده کړي.<br>4. د محصلينو کمزوري جذب.<br>5. د محصلينو لپاره د عمل کارونو نه اجرا کول. | 1. غوره امکانات ښه تجهيزات ښه تدريسي میتودونه د ټولني په وړاندي د ځانګي اعتبار لوړوي او د محصلينو جذب و ځانګی ته ډيريږي.<br>2. ښه او چټک خدمات د نورو مسلکي داراتو سره ښه همږغي د محصلينو لپاره د عملي کار د ساحي په پيداکولو کښی مرسته کوي.<br>3. د ټولني د اقتصادي وضعيت په نظرکښي نيولو سره مناسب فيس په خراب اقتصادي وضعيت کښي د ټولني سره په لوړو زده کړو کښي مرسته کوي. | 1. د موجوده کادرونو ساتنه د کدرونو د کمولی له وجی.<br>2. د محصلانو د زيات جذب او محصلانو ته د کاري فرصت پيدا کيدو لپاره محصلينو ته مسلکي روزنه ورکول. |

## د ستراتیژیک حالت ټاکنه

د پورته تحلیل پر بنسټ د سیول ځانګي موجوده ستراتیژیک حالت په لاندي ډول تعین سوی دی

| داخلي او خارجي عوامل / اوسط نهايي نمره | | قوي ټکي | کمزوري ټکي |
|---|---|---|---|
| | | 1.72 | 0.86 |
| **فرصتونه** | 1.6 | **2.752**<br>**تهاجمي حالت** | **1.38**<br>**محافظه کارانه حالت** |
| **تهديدونه** | 0.61 | **1.05**<br>**رقابتی حالت** | **0.52**<br>**تدافعي حالت** |

## د ستراتيژيو د لومړيتوب ټاکنه

| داخلي او باندني عوامل / ستراتيژي | | تهاجمي ستراتيژي | | | محافظه کارانه ستراتيژي | | تدافعي ستراتيژي | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د اهميت ضريب | د جذابيت ضريب | نمره | د جذابيت ضريب | نمره | د جذابيت ضريب | نمره |
| قوي ټکي | معياری او داوسنی اړتياو ځواب ويونکی واحد تحصيلی کريکولم درلودل. | 0.1405 | 3.5 | 0.49175 | 3.5 | 0.492 | 4 | 0.562 |
| | ښه تجهيزات او امکانات درلودل . | 0.1150 | 4 | 0.46 | 2 | 0.23 | 3.5 | 0.4025 |
| | معياری او غوره تدريسی ميتود. | 0.0766 | 4 | 0.3064 | 3.5 | 0.268 | 3.5 | 0.268 |
| | ښه او چټک خدمات دانجنيری پوهنځي سره دهمږو اداراتو تفاهم ليکونه لرل. | 0.1533 | 3 | 0.4599 | 3 | 0.46 | 3 | 0.46 |
| کمزوری ټکی | د دايمی لوړ رتبه او کادري استادانو نه شتون. | 0.112 | 2 | 0.224 | 1.5 | 0.168 | 1.5 | 0.0.168 |
| | د محصلانو لپاره دعملی کارونو کموالی. | 0.1246 | 1.5 | 0.1869 | 2 | 0.2492 | 2 | 0.2492 |
| | د دخيړنيزو پروژو او پرګرامونو کموالي . | 0.1342 | 1.2 | 0.16104 | 1.5 | 0.2013 | 1.5 | 0.2013 |
| | دمحصلينو کمزوری جذب. | 0.1438 | 2 | 0.2876 | 1 | 0.1438 | 1 | 0.1438 |
| فرصتونه | تر بل هر وخت و لوړو زده کړو اسانه لاس رسي. | 0.1075 | 4 | 0.43 | 3.5 | 0.38 | 3.5 | 0.43 |
| | د ټولني اقتصادي وضعيت ته په کتو مناسب فيس. | 0.147 | 3.5 | 0.5145 | 3.5 | 0.515 | 3 | 0.441 |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| غوره امنيت او غوره موقعيت. | | 0.082 | 3.8 | 0.3116 | 3.5 | 0.287 | 3 | 0.246 |
| د پراخه کاري ساحي شتون. | | 0.115 | 3 | 0.345 | 3 | 0.219 | 3.5 | 0.219 |
| د محصلينو لپاره د عملی کار او سير علمي زمينه سازي کول. | | 0.155 | 2 | 0.31 | 4 | 0.46 | 3.5 | 0.54 |
| د اقتصادي وضعيت خرابوالي. | تهدیدونه | 0.1434 | 2 | 0.0.2868 | 2 | 0.287 | 2 | 0.287 |
| د دولتي او غير دولتي پوهنتونونو تر منځ غير سالم رقابت. | | 0.0645 | 1.5 | 0.09675 | 2 | 0.129 | 1.5 | 0.097 |
| په ثانوي دوره کښې په ساینسی علومو کښې د محصلينو ضعيفه زده کړي. | | 0.107 | 2 | 0.214 | 1.5 | 0.1605 | 1.5 | 0.1605 |
| د محصلينو کمزوري جذب. | | 0.0788 | 1.8 | 0.14184 | 1 | 0.0788 | 1 | 0.0788 |
| د محصلينو لپاره د عمل کارونو نه اجرا کول. | | 0.0868 | 1.5 | 0.1302 | 2 | 0.1736 | 2 | 0.1736 |
| مجموعه | | 2 | 46.3 | 5.35828 | 44 | 4.9022 | 44.5 | 5.1277 |

## د ځانګي ستراتيژيک پروګرامونه

### ۱: د ظرفيتونو لوړول

ظرفيت لوړونه د افغانستان د لوړو زده کړو په برخه کې  يوه اشده اړتيا ده. د تيرو لسيزو ناخوالو نه يواځي دا چې د معارف او لوړو زده کړو پروسه يې له بې سارو خنډونو سره مخ کړې ده بلکه د شته ظرفيتونو څخه د کار اخيستلو او د ظرفيتونو په لوړولو او رامنځته کولو کې  يې هم ډيري ننګوني زيږولي دي.

د مسلکي او وړ ظرفيت لرونکو کدرونو او کارمندانو کمبود، د ظرفيت لرونې په وړاندي بيلابيلي ستونزي او چالشونه، نا مساعد شرايط او د شته ظرفيتونو څخه د اعظمي استفادې د ظرفيت کمزوري، هغه د انديښنې وړ ټکي دي چې د بُست پوهنتون د انجنيري پوهنځی د سيول ځانګه هم د افغانستان د نورو ټولو مخ په پراختيا پوهنتونونو په څير ورسره لاس او ګريوان ده.

### ۲: عملي کارونو لپاره د زمينو  پراختيا

عملي کارونه د زده کړې او معياري تحصيل لپاره يو مهم مرستندوی دی. انجنيري پوهنځی سيول ځانګې په بيلابيلو برخو کې  تل هڅه کړې تر څو خپلو محصلينو ته د عملي کارونو زمينه برابره کړي.

له دې برخې څخه هدف دادی چې محصلين د عملي کارونو او عملي ليدنو په وسيله له لوړ ظرفيت څخه برخمن سي؛ د کار له ساحې سره بلد سي او په عملي ډګر کې د کارکولو توانايي ولري.

د عملي کارونو لپاره په سيول ځانګه کې  لاندې تدابير اړين دی.

1. دا چي د سیول ځانګي اړوند لابراتوار اوارله مخکي جوړ شوي؛ د هغه لابراتوار اړین مواد پوره کیږي او د اړتیا مطابق رغول کیږي.
2. ټول هغه محصلین چي نوښت کوي او د عملي کار په برخه کي له ځانه وړتیا ښيي، هر اړخیزه ملاتړیې کیږي او په دي برخه کي هڅول کیږي.
3. محصلین د عملي کارونو لپاره و ساحي ته بیول کیږي .

د عملي کارونو لپاره زمینه سازی، د محصلینو او استادانو حمایه د عملي کارونو د تاسیساتو رغول او پراخول د سیول ځانګي له لومړیتوبونو څخه دي او په دي برخه کي په جدیت سره کار کوي.

## ۳: د تحصیلي نصاب اصلاح او څارنه

د سیول ځانګي موجوده تحصیلي نصاب که څه هم نوی او تر ډیره بریده ځواب ویونکی دی، خو اړتیا ده د نوموړي تحصیلي نصاب د بیا کتني، ارزوني، اصلاح او تطبیق په موخه پرلپسې پلان شوي فعالیتونه تر سره سي د محصلانو د نظر یاتو په اساس انجنیری سافتویرونه په نصاب کي ځای پر ځای سي؛ نوموړي فعالیتونه د لوړو زده کړو وزارت او د نصاب اړوند د ټولو مقرراتو، لایحو، طرزالعملونو او پوهنځیو ته د ورکړل سویو صلاحیتونو په چوکاټ کي صورت نیسي

د انجنیري پوهنځۍ د نصاب کمیته د نصاب د اصلاح، څارني او تطبیق عملیاتي پلانونه جوړوي چي لاندي مهم مسایل پکښي په نظر کي نیول کیږي.

1. د ټول موجوده تحصیلي نصاب د مفرداتو بیا کتنه او اړوند اصلاحات پکښي په نظر کي نیول.
2. د نصاب د کمیټي اړوند د ورکول سوو صلاحیتونو مطابق د ځینو مضامینو تغیر او تبدیلول.
3. د کریډیت سیستم ښه تطبیق او څارنه.
4. د مضامینو تسلسل، نصب، تکرار، دوام، حجم، کریډیټونه او نور اړوند مسایل اصلاح کول او معیاري کول.
5. د تدریسي موادو د تخنیکی او مسلکي جوړښت معیاري کول.
6. د عملي کارونو، سمینارونو د برخي اصلاح، معیاري او نوي کول.
7. د استادانو له تدریسي پلانونو، کورس پالیسیو، تدابیري او اصلاحي پلانونو څخه څارنه کول او د اصلاحاتو ځارل.
8. د نصاب اړوند ټولو فعالیتونو څخه څارنه.
9. د ټاکل سویو معیارونو سره د ټولو تدریسي چپټرونو، کتابونو او نورو اړونده موادو چک کول او پروتوکول کول.
10. د نصاب د تطبیق څخه څارنه.

## ۴: د کیفیت تضمین د خدماتو او زیربناوو رغول

د کیفیت د بهترکولو چاري د ځانګي له لومړیتوبونو څخه دي. ددې لپاره چي د کیفیت لوړول او بهتره کول یقیني سي نو د تحصیلي نصاب د اصلاح او نوي کولو تر څنګ د یو لړ زیربناوو رغوونه، معیاري کول او پراخول حتمي دي. که څه هم لا له وړاندي د سیول ځانګي د زیربناوو په اړوند ښې لاسته راوړني لري او له پراخو امکاناتو څخه برخمنه ده، خو بیا هم اړتیا ده چي د ځینو برخو په زیر بناوو کي پراختیا راسي او یا هم له سره ورغول سي.

ددې پروګرام اساسي هدف د علمي لوړو معیارونو عملي کول او معیاري سهولتونو ته د لاسرسي پر بناء د خدماتو بهتر کول، پراخول او د کیفیت تضمین دی.

## ۵: د محصلینو د جذب لپاره اوږد مهاله فعالیتونه

1. د لوړ رتبه علمي کادرونو جذب.
2. په تولنه کي د سیول ځانګي فارغ محصلینو ته کاري فرصتونه برابرول.
3. د معیاري امکاناتو برابرول.
4. د عملي زده کړو لپاره معیاري او مجهز لابراتوار درلودل او لابراتور کي د لابراتواري ټیستونو د ترسره کولو په موخه د مسلکی لابرانت استخدامول.
5. د محصلینو د عملي زده کړو په موخه د نورو پوهنتونونو او اړونده اداراتو سره یو لړ تفاهم لیکونه درلودل.

## ۶: د علمي څېړنو پراخول ( تحقیق )

علمي او مسلکي څېړني د یوې پوهنځۍ د علمي غنا اساس تشکیلوي. انجنیري پوهنځۍ د علمي څېړنو یو فعاله کمیته لري چي لا له وړاندي يې په کار پیل کړی دی. خو دا چي له یوې خوا د ظرفیتونو د تیټوالي له وجي د علمي څېړنو لپاره مسلکي شرایط برابر نه دي او له بلي خوا زموږ په تولنه کي د ریسرچ د فرهنګ دودول ډیر په ابتدایي حالت کي دی؛ نو تر اوسه د مسلکي ریسرچونو او علمي مقالاتو په اړوند ډیر څه نه دي تر سره سوي؛ ولي دا مرکز دنده لري چي په تدریجي ډول د علمي ریسرچونو او علمی موادو د راتولیدا حمایت وکړي؛ امکانات ورته برابر کړي او په دې برخه کي بې ساري هلي ځلي وکړي. د علمي څېړنو د پراختیا په برخه کي لاندي فعالیتونه د تر سره کیدو وړ دي.

1. علمي څېړنیزه مشورتي کمیته چي لا له وړاندي تشکیل سوې ده چي خپل تشکیل کي یو مسول او ۲ تنه غړي لري د علمي څېړنو د حمایې، لارښووني، راټولووني او تنظیم لپاره پر یوه اجرایوي پلان کار کوي.
2. د سیول ځانګي علمي څېړني په مختلفو شکلونو، علمي مجلو، ژورنال، کتابونو او نورو کي خپریږي.
3. د سیول ځانګي د علمي ریسرچونو په برخه کي مادي او معنوي امکانات برابروي.
4. د استادانو او محصلینو لخوا د علمي څېړنو د ترسره کولو په موخه تشویقي پروګرامونه جوړیږي.
5. تولنه علمي څېړني د څېړنیزي کمیټي او لوړ ظرفیت لرونکو کادري کسانو له خوا ځارل کیږي او تصحیح کیږي.
6. له محصلینو سره د علمي څېړنو په برخه کي د علمي څېړنو د کمیټي او استادانو له خوا راهنمایي او میتودیکه همکاري کیږي.

### ۷: د استادانو د ماسټری پروګرام

سیول ځانګه په کافي اندازه د خپل مسلک استادان لري، ولې د استادانو لویه فیصدي یې لیسانس او په کمه اندازه استادان یې ماسټران دي، د ظرفیتونو د لوړولو په موخه اړینه ده چې تر هرڅه مخکې د استادانو تحصیلي سویې ته پاملرنه وسي، د سیول ځانګه پلان لري تر راتلونکو ۵ کالو پوري باید ۴ تنه ماسټران استادان ولري.

### ۸: د مسلکي دایمي استادانو جذب(کادري سیستم تطبیق)

که څه هم سیول ځانګه د اړتیا مطابق کافي استادان لري؛ خو لکه څنګه چې مخکي وویل سول ددې استادانو ډیره برخه لیسانس دي، ددې تر څنګ په سیول ځانګه کې زیات استادان فی ساعت حق الزحمه مقرر سوی دي او د دایمي استادانو شمیر په نسبتي ډول کم دی.

د في ساعت حق الزحمه استادانو په اړه یو ټکي دادی چې نوموړي استادان که څه هم اکثریت یې په تیرکي د تدریس په برخه کې موثر ثابت سوي؛ اما زیات شمیر استادان په مختلیفو اداراتو کې نوري دندي لري او د پوهنتون تدریس د دوهمي دندي په ډول مخ ته وړي، نو ځکه ډیر کله تدریسي مواد ډیر زاړه او په وخت نه وي اپډیټ سوي، د محصلینو پرلپسې راهنمایي په درست ډول نه وی سوې، د کمیټو د فعاله ساتلو او په کمیټه کې د ګډون کولو وخت نلري او په مجموع کې د ظرفیت د لوړولو او ښه کولو چندان موثر کار صورت نه نیسي.

ددې برخي هدف دادی چې د سیول ځانګه په اوږد مهال کې د دایمي مسلکي استادانو څښتنه سي او کادري سیستم پکښې عملي او تطبیق سي، تر څو له یوې خوا په ظرفیتونو باندي پانګونه وسي او د بلې خوا د داسي اکاډومیک استادانو درلودونکې اوسي چې تولې هڅې یې د محصلینو د ظرفیتونو د لوړوالي او اکاډمیکو کارونو د پراختیا او ښه والي په موخه وي.

په دې برخه کې په راتلونکي پنځو کلونو کې لاندي فعالیتونه تر لاس لاندي نیول کیږي.

1. د لوړو زده کړو وزارت ته د مقررو وراندیزونو پر بنسټ د کدري سیستم د ایجاد غوښتنه.
2. په تدریج سره د دایمي مسلکي استادانو ډیروالی او د في ساعت حق الزحمه استادانو د تشکیل کموالی.
3. د تدریس اصلي او مرستندویه موادو له معیاري کیدو څخه اطمنان، او ددې موادو په غني کولو کې له کدرونو سره هر ډول همکاري.
4. د دایمي مسلکي استادانو د ظرفیتونو د لوړوالي لپاره لومړیتوب او بیلابیلي برنامې په دې برخه په لاره اچول.
5. د دایمي استادانو د مسؤلیتونو او صلاحیتونو تنظیم او د موثر او اعظمي کار لپاره د چاپیریال برابرول.
6. د استادانو د تدریس، څیړنو، میتودیکو فعالیتونو او نورور اکاډیمیکو او نوښتګرو فعالیتونو څخه هر اړخیزه کتنه، د هغوی تشویق او ملاتړ.

### ۹: د عوایدو را ټولول

1. د ثابتو شتمنیو زیاتوالی
2. د تحصیلي خدماتو له لاري د عوایدو راټولول (تحصیلی فیس، د شمولیت فیس او د کانکور فیس)
3. د څیړنو پر مټ د عوایدو راټولول (څیړنیزي پروژې)

4. د زده کړه ایزو او لابراتواري تجربو  په ترسره  کولو سره د عوایدو راټولول (د انجنيری ټيستونه او لابراتواري تجربې ترسره کول، د زده کړه ایزه پروژو ترسره کول، د ظرفیت لوړولو په موخه د لنډ مهاله کورسونو دایرول)

### ۱۰: د تکنالوژي څخه استفاده او د سازماني مدیریت انکشاف

- د الکترونيکي زده کړو د بنسټيزو چارو تقويه کول (په ځانګه کې  د الکترونيکي زده کړو د کړنلاري ترتيب)
    1. په ځانګه کي  د الکترونيکي زده کړو لپاره ميکانيزم / طرزالعمل تهيه کول.
    2. د الکترونيکي ذده کړو لپاره زمينه سازي او د زير بناؤو تقويه کول.
- د کاري امنيت رامنځ ته کول او د کارمندانو او د استادانو د رضايت زياتوالی:
    1. د لنډ مهاله زده کړو لپاره د استادانو او کارمندانو معرفي کول.
    2. له کدري او اداري غړو سره د اوږد مهاله  قراردادونو لاسليکول.
    3. د کارمندانو او استادانو شکاياتو ته د رسيدګي ميکانيزم جوړول او د هر نوع حقوقو څخه يي دفاع کول.
- د استادانو او کارمندانو د مهارتونو سطح لوړول
    1. له تکنالوژی څخه د استفادې په اړه استادانو او کارمندانو ته ورکشافونه دايرول،
    2. د کارمندانو او استادانو د مهارتونو لوړول د ارزيابی او نظارت له طريقه.
    3. له ډيتابيس څخه د استفادې په اړه کارمندانو او استادانو  ته زده کړه ورکول.

## په افغاني ټولنه کي د انجنيری پوهنځی سيول ځانګي رول

انسانانو د لاسي وسایلو د جوړیدو او د طبیعي منابعو څخه د استفادي په وخت کښې د خپل ژوند د ښه تیرولو په منظور د ودانیو په جوړولو شروع وکړه چي د لومړي سرپناه یا وداني په جوړولو سره د سیول انجنیري اساس کښیښودل سو. د ټولنو په غتیدلو د نفوس په زیاتوالي سره او په طبیعت کښې د انسانانو تغیراتو او د خپل ژوند د ښه تیرولو په منظور د مختلفو ساختمانونو لکه بندونو پلونو او نورو جوړولو په صورت کښې د سیول انجنيري نقش د انسانانو په ژوند او ټولنه کښې پراختيا ومونده.

الله (ج) په نړی کي د انسانانو د استفادې لپاره ډول ډول نعمتونه پيداکړي او انسان ته يې دا ځواک ورکړی تر څو د په نړی او طبيعت کي  نوي شيان پيدا او جوړکړي او د ټولني د بشري او هر ډول تخنيکي ستونزو د حل لپاره استفاده ترې وکړي.

د دي ځواک په بنا انجنير هميشه کوښښ او تلاش کوي په ټولنه کي د انسانانو د ژوند د اسانتيا، د تخنيکي ستونزو د حل او د ټولني د پرمختګ په موخه فعاليتونه اجراکړي.

د انسانانو د ژوند د پيل څخه چي انسانانو د ژوند د خونديتوب او هوسا او ښه تيرولو په منظور په غارونو کي  ژوند تيراوه؛ تراوسه پوري انجنيري صنعت د پام وړ تغير کړی چي دا تول په ټولنه کي د انجنيری په ارزښت او رول دلالت کوي.

ځرنګه چې افغانستان د پرلپسې جنګونو او ورانیو په نتیجه کې تخریب سوی د پرمختګ څخه وروسته پاته سوی نو په هره برخه کې کار او پرمختګ ته خاص ضرورت لیدل کیږي د زراعت، صنعت، د اوبو د کنترول، د سړکونو جوړولو، د معدنونو را ایستنه، د ودانیو جوړولو، د پلونو جوړولو، د بندونو جوړولو، د کانالونو جوړولو او داسې نورو برخو کې د پام وړ کار ته ضرورت سته چې د دې کارونو په اجرا کې انجنیري کلیدي رول لري دغه کارونه هغه وخت په ښه او دوامداره توګه ترسره کیدای سي چې انجنیري نورمونه، معیارونه او تګلاري په نظرکې ونیول سي.

## اکشن پلان

| ګڼه | فعالیت | هدف | مسؤل | د اجرا ځای | سرچینې | د کار د اجرا وخت | | | | | | | | | | | | ټوله وخت | د کار شروع | د کار ختم | اغیزي | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدی | دلوه | حوت | | | | اغیزې | کتې |
| ۱ | دظرفیتونو لوړول | په سیول ځانګه کې د ماسټر استادانو د شتون زیاتوالی | د ځانګې امریت او د پوهنځي ریاست | سیول ځانګه | مالي ملاتړ | | | | | | | | | | | | | د اړتیا مطابق | | | | |
| ۲ | عملي کارونو لپاره د زمینو پراختیا | عملي کارونه د زده کړې او معیاري تحصیل لپاره یو مهم مرستندوی دی | د سیول ځانګې آمریت | سیول ځانګه | | | | | | | | | | | | | | په هر سمستر کې | | | | |
| ۳ | د کیفیت تضمین د خدماتو او زیربناوو رغول | د کیفیت د بهترکولو چاري د ځانګې له لومړیتوبونو څخه دي | د ځانګې آمریت او د پوهنتون د کیفیت تضمین کمیټه | سیول ځانګه | | | | | | | | | | | | | | د اړتیا مطابق | | | | |
| ۴ | د تحصیلي نصاب اصلاح او څارنه | د تحصیلی نصاب د بیا کتنې، ارزونې، اصلاح او تطبیق په موخه پلان سوي فعالیتونه | د ځانګې آمریت، د پوهنځي د نصاب کمیټه او د پوهنتون د تحصیلي نصاب کمیټه | سیول ځانګه | | | | | | | | | | | | | | د هر سمستر پیل | | | | |
| ۵ | د محصلینو د جذب لپاره اوږد مهاله فعالیتونه | په ځانګه کې د محصلینو د جذب زیاتوالی | د پوهنځی ریاست/ سیول ځانګه | سیول ځانګه/د پوهنځي ریاست | | | | | | | | | | | | | | هر کانکور کې | | | | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ | د علمي خیړنو پراخول ( تحقیق ) | علمي او مسلکي خیړني د یوي څانګي د علمي غنا اساس تشکیلوي | د سیول څانګي آمریت د پوهنځۍ د خیړني فرعي کمیته او د پوهنتون د خیړنو کمیته | بُست پوهنتون | | | | | | | | | | | | | | کال/دوی خیړنی | | | | |
| ۷ | د استادانو د ماسټری پروګرام | د استادانو د ظرفیتونو د لوړولو په موخه | سیول څانګه د پوهنځۍ ریاست او د پوهنتون علمي معاونیت | بُست پوهنتون | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ۸ | د مسلکي او دایمي استادانو جذب | د کدري سیستم د ایجاد په منظور | علمي معاونیت | سیول څانګه | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ۹ | د عوایدو راټولول | د تحصیلي خدماتو له لاري د عوایدو راټولول | سیول څانګه | سیول څانګه | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ۱۰ | د تکنالوژی څخه استفاده | د الکترونیکي زده کړو د بنسټیزو چارو تقویه کول | سیول څانګه | سیول څانګه | | | | | | | | | | | | | | | | | | |

## د بودجې تدوین

| ګڼه | فعالیت | کلنۍ بودیجه (ارقام په افغانی) | | | | | مجموعي پلان شوي انکشافي بودجه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | 1401 | 1402 | 1403 | 1404 | 1405 | |
| ۱ | د علمي خیړنو پراختیا | 30000 | 30000 | 30000 | 30000 | 30000 | 150000 |
| ۲ | د استادانو د ماسټری پروګرام | 0 | 50,000 | 50,000 | 50,000 | 50,000 | 200000 |
| ۳ | تشکیلات | 50000 | | | | | 50000 |
| ۴ | د دیتابیس د خدماتو پراخول | 8000 | | | | | 8000 |
| ۶ | د ویب سایټ پراختیا | 20,000 | | | | | 20,000 |
| ۷ | د لابراتوار غني کول | 30,000 | 30,000 | 30,000 | 30,000 | 30,000 | 150,000 |

## د ستراتیژۍ اجرا

I. زمینه سازي او بُستر جوړونه
II. د ځانګي د ستراتیژۍ عملیاتي کول

## د ستراتیژۍ ارزیابي

یو ځانګړی میکانیزم جوړیږي او په ربع وار او کلني شکل ارزیابي صورت نیسي.

## ضمایم

پورته پنځه کلن ستراتیژیک پلان د ستراتیژیک پلان د جوړولو د کمیټې په (  ) نمبر ناسته او نیټه (
) تائید او د تطبیق وړ دی.
د کمیټې د مسؤل لاسلیک او مُهر..................................

د سیول ځانګي پنځه کلن ستراتیژیک پلان د ځانګي په (  ) نمبر غونډه او (  ) نیټه تائید او ثبت دی.
د ځانګي د مسؤل لاسلیک او مُهر ............................

د سیول ځانګي پنځه کلن ستراتیژیک پلان د پوهنځي د علمي شورا په (  ) نمبرر ناسته او (
) نیټه تائید او د تطبیق وړ دی.
د پوهنځي د علمي شورا د مسؤل لاسلیک او مُهر .......................................